شیطان ستاسو څخه یو ته راځي او وایي: دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ تر دې چې ووایي: ستا رب چا پیدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېده، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودریږي

له ابو هریرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي:
«شیطان ستاسو څخه یو ته راځي او وایي: دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ تر دې چې ووایي: ستا رب چا پیدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېده، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودریږي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو پوښتنو په اړه چې شیطان پرې مؤمن ته وسوسې ور اچوي د مؤثرې درملنې څخه خبر ورکوي. شیطان به ووایي: دا فلانی چا پیدا کړی دی؟ دا فلانی چا پیدا کړی دی؟ ځمکه چا پیدا کړې ده؟ نو مؤمن به ورته د دین، فطرت او عقل له مخې پدې وینا سره جواب ورکړي چې: الله، خو شیطان د وسوسې اچولو لدې حد سره نه ودریږي، بلکې بل پړاو ته ځي تر دې چې ووایی: ستا رب چا پیدا کړی دی؟ بیا مؤمن په دربو کارونو سره دغه وسوسه له منځه وړي: په الله تعالی باندې په ایمان لرلو سره. او له شیطان څخه په الله جل جلاله باندې پناه وړلو سره. او په وسوسو کې له مخکې تللو څخه په ودربدلو سره.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65013